# د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نصيحتونه

**26-June-2025**

هفته وراه د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکې

د سُنّتو ډک بيان

(For Islamic Brothers)



پۀ 26 جون، کال 2025ء (بمطابق: 29 ذُو الحج، کال 1446ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نصيحتونه

پۀ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- خاموشي افضل دوست دے
- د ايمان د پخولو طريقه
- د تقویٰ لباس چرته ميلاؤيږي
- زوال نۀ لرونکے دولت

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

حضرت ابو حفص کاغذي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ ډیر لوئي سردار وو، د هغوئي د وفات نه پس چا هغوئي په خوب کښې وليدلو او پوښتنه يې ترينه وکړه چې **الله** پاک ستاسو سره څۀ معامله وفرمائيله؟ جواب يې ورکړو: **الله** پاک رحم وکړو، زه يې وبخښلم او جَنَّت يې راته عطا کړو- خوب ليدونکي ترينه پوښتنه وکړه: په څۀ وجه؟ اوئي فرمائيل: د **الله** پاک په بارګاه کښې زما حاضِري وشوه، زما حساب واخستلے شو، فرښتو ته حُکم وشو چې د دۀ ګناهونه وشميرئ! فرښتو ګناهونه وشميرل- بيا حکم وشو: دۀ چې په دُنيا کښې زما په محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې کوم درود شريف لوستلي دي ، هغه وشميرئ! فرښتو زما لوستلي درود شريف وشميرل- بس زما لوستلي درود شريف زما د ګناهونو نه زيات راوختل- نو الله پاک ووفرمائيل: بَس! اے فرښتو کافي دے- د دۀ سره نور حساب مۀ کوئ! دا زمونږه جنَّت ته بوځئ---! (1)

قربِ خُدا ہو حاصِل جنت میں ہو وہ داخل | جس نے لکھا پڑھا ہے صَلِّ عَلٰی مُحَمَّد
جانے بھی دے اِرم کو رِضوان نہ روک ہم کو | سینے پہ لکھ لیا ہے صَلِّ عَلٰی مُحَمَّد
جنت مقام ہوگا دوزخ حرام ہوگا | گر دل پہ لکھ لیا ہے صَلِّ عَلٰی مُحَمَّد

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1...القولُ البدِيْع، صفحه:124۔

## د بيان اوريدلو نيتونه

پهٔ حديثِ پاک کښې دي:اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نيتونو دے-[1]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! پهٔ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي- راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِيَّتونه وکړو: مَثَلاً ✿ د اللّٰه پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ✿ پهٔ اَدب به کښينم ✿ ښهٔ پهٔ توجُّه به بيان اورم ✿ څهٔ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## پهٔ شرابي يــې توبه کړه

روايت دے: چې د مسلمانانو د دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ يو دِيني ورور (يعنې دوست) وو، هغهٔ هجرت وکړو او شام ته لاړو او هلته اوسيدو- يو ځل د شام نه يو ګس د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ خدمت کښې حاضر شو، هغوئي د هغهٔ نه پوښتنه وکړه: زما د فلانکي دِيني ورور (يعنې دوست) څهٔ حال دے؟ هغهٔ ووئيل: عالي جاه---!! هُغه فلانکے ګس---؟؟ هغهٔ خو د شيطان ورور دے- هغهٔ خو ډير لوئي لوئي کبيره ګناهونه کوي، تر دې پورې چې شراب هم څښي- حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هُغه د شام والا ګس ته وفرمائيل: چې کله تهٔ شام ته واپس ځې نو زما سره ميلاؤ شهٔ-

يو څو ورځې پس چې کله هُغه ګس خپل مُلک شام ته واپس روان شو نو حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ يو خط وليکو، پهٔ هُغه خط کښې يــې وړومبے دا آيت مبارک وليکو:

---

1...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حديث:1۔

| | |
|---|---|
| حٰمٓ ۚ ﴿۱﴾ تَنۡزِیۡلُ الۡکِتٰبِ مِنَ اللّٰہِ الۡعَزِیۡزِ الۡعَلِیۡمِ ۙ ﴿۲﴾ غَافِرِ الذَّنۡۢبِ وَ قَابِلِ التَّوۡبِ شَدِیۡدِ الۡعِقَابِ ۙ (پاره:24، سورۀ مومن:31) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: حٰمٓ. د کتاب نازلول د الله له طرفه دي چې عزت والا عِلم والا دے- گناه بخښونکے او توبه قبلوونکے، سخت عذاب ورکوونکے، |

بیا یې د خپل هغه دِیني ورور د پاره څهٔ نصیحتونه ولیکل او د نیکۍ دعوت یې ورکړو- دا خط هغوئي هغه د شام والا کس له ورکړو او اوئې فرمائیل: دا خط زما دوست ته ورسوه- (1)

پهٔ دې خط کښې دومره اثر وو چې کله هغهٔ دا خط ولوستو نو پهٔ چغه یې ووئیل: بے شکه **الله** پاک بخښونکے دے، یقیناً **الله** پاک د بخښنې وعده فرمائیلې ده، یقیناً **الله** پاک توبه قبلوونکے دے، یقیناً د **الله** پاک نیول ډیر سخت دي-

هغه کس به بیا بیا دا وئیل، تر دې پورې چې هغهٔ سلګو ونیوو او هغهٔ پهٔ چغو چغو پهٔ ژړا شو- **اخر هغهٔ د شرابو څښلو نه رښتونې پخه توبه وکړه او نیک انسان جوړ شو-**

حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته چې کله د دې توبې خبر راورسیدو نو اوئې فرمائیل: تاسو هم داسې کوئ، چې کله تاسو ووینئ چې ستاسو څوک ورور خوئیدلے دے نو د هغهٔ پهٔ نیغه لار د راوستو کوشش کوئ او د هغهٔ طرف ته خصوصي پام کوئ، د هغهٔ د پاره دُعا کوئ چې **الله** پاک هغهٔ ته د توبې توفیق ورعطا کړي او د هغهٔ خلاف د شیطان مرسته کوونکي مهٔ جوړیږئ- (2)

## د فیضانِ فاروقِ اعظم نومې کتاب تعارف

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** مونږه د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د سیرت

---

1...احیاء العلوم، کتاب آداب الالفة و الاخوة، الحق الرابع علی اللسان بالنطق، جلد:2، صفحه:227بتصرف-
2...فیضانِ فاروقِ اعظم، جلد:2، صفحه:388387 ملخصاً-

یوه ډیره ښکلې واقعه واوریدله- دا واقعه د مکـتبة الـمدینه په کتاب **فیضانِ فاروقِ اعظم، جلد: 2، صفحه: 388** باندې درج ده- دا د 2 جلدونو کتاب دے، کیدے شي چې د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په سیرت باندې دومره جامع او دومره غټ کتاب په اُردو ژبه کښې بَل نۀ وي- دا کتاب د مکـتبة الـمدینه نه حاصل کړئ! په کور کښې یـې کیږدئ! ټـولـه یـې هم ولولئ! کور والؤ ته یـې هم د لوستلو ترغیب ورکړئ! که غواړئ نو د دعوتِ اِسلامي د ویب سائټ *www.dawateislami.net* نه یا *Ebook library* نومې موبائل ایپلي کیشن په ذریعه یـې داؤن لوډ کړئ! ټـولـه یـې هم ولولئ او په ښو ښو نیتونو سره یـې په واټس ایپ ګروپونو کښې هم لازمي شیئر کړئ!

## دوستانو ته نصیحت کوئ---!!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! دا کومه واقعه چې مونږ واوریدله، په دې کښې زمونږ د زړه کولو د پاره هم ډیرې خبرې دي- یو بنیادي سبق کوم چې دلته راکړے شوے دے، ټـولـه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په صفا الفاظو کښې مونږ ته د دې نصیحت وفرمائیلو چې کله هم ستاسو یو دوست، یو مسلمان ورور د نیغې لارې نه اخوا شي، نیکۍ پریږدي او په ګناهونو کښې اخته شي نو په دې معامله کښې د شیطان مرسته کوونکي مۀ جوړیږئ بلکې د هغۀ په حق کښې دُعاګانې کوئ او د نیکۍ دعوت ورکوئ او هغۀ واپس د نیکۍ لارې ته راولئ---!!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! دا ډیر زبردست نصیحت دے، واقعي ده چې داسې کیږي، که یو کَس په نیکه لاره باندې روان وي، بیا هغۀ د نیکۍ لارې نه لرې شي او د ګناهونو په لاره باندې روان شي، مثلاً ❀ مخکښې یـې ګیره پریښودې وه او بیا یـې وخریله ❀ مخکښې به یـې عمامه په سر کوله او اوس د دې سُنَّت نه محرومه شوے دے ❀ مخکښې به یـې نـمونځونه کول او اوس غیر حاضریانې شروع شوې، په داسې حالت

کښې دلته د غیبتونو یوه دروازه برسیره شي، خلق پهٔ چوکونو کښې ولاړ وي او، پهٔ خپلو ذاتي محفلونو کښې ناست وي او د هٔغه کَس بد بیانوي، داسې د غیبتونو نه ډکې جُملې چې کله هٔغه کَس ته ورسي نو د هغهٔ زړهٔ مات شي، ضد یې زیات شي او هغهٔ د ګناه پریښودو پهٔ ځائے، پهٔ نورو ګناهونو کولو باندې زړور شي۔ ځکه که یو کَس شیطان دوکه کړے دے او ګناهونه یې شروع کړي دي نو بیا د هغهٔ پهٔ غیبتونو کولو، هغهٔ له پهٔ پیغورونو ورکولو، پهٔ ترخو خبرو کولو د شیطان مرسته کوونکي مهٔ جوړیږئ بلکې هغهٔ له د نیکئ دعوت ورکړئ، پهٔ مینه او محبت، پهٔ حکمت سره هغهٔ پوهه کړئ، د نیکئ لارې ته د واپس راوستو کوشش پرې وکړئ او که **اللّٰه** پاک توفیق درکړي نو د هغهٔ پهٔ حق کښې دُعاګانې هم کوئ۔

## محبتونه زیات کړئ تحریک

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي یوه شعبه ده: **محبتونه زیات کړئ!** د دې شعبې کار هم دا دے چې ❀ هٔغه اِسلامي ورونړه کومو چې به مخکښې نیکئ کولې ❀ هفته واور اجتماعاتو ته به حاضریدل ❀ عمامه به یې پهٔ سر کوله ❀ د سحر د نمونځ د پاره به یې راپاڅول کول ❀ نیک اعمال به یې کول ❀ د قافلو مسافر به جوړیدل، بیا د دِیني ماحول نه لرې شو، د دې شعبې والا اِسلامي ورونړه د هغوئي خوا له ځي، پهٔ مینه او محبت هغوئي ته د نیکئ دعوت ورکوي، پوهه کوي یې او بیا یې د نیکو پهٔ لار روانوي۔

## دوستانو له هم د نیکئ دعوت ورکوئ!

کاش چې مونږه هم دا طریقه اِختیار کړو، خپل دوستان د نیکو پهٔ لاره باندې روان کړو۔ د افسوس خبره ده چې دلته دا ماحول هم نشته۔ د دوستانو د پوهه کولو عادت د ډیرو کمو خلقو وي۔ عام طور د هر یو کَس څهٔ نا څهٔ، کم یا زیات فرینډ فالوِنګ ( ***Friend following***) خو وي، څهٔ نا څهٔ دوستان خو یې وي۔ هغوئي ته د نیکئ دعوت ډیر کم

ورکولے کیږي ❀ د دوستانو سره ناست وي، اَذان وشي، غلي شان پاځي او د نـمونځ د پاره روان شي خو دوستان د ځان سره نهٔ بوځي ❀ پهٔ قافلو کښې سفر کوي خو دوستانو له هېو دعوت هم نهٔ ورکوي ❀ پخپله تِلاوت کوي خو د دوستانو ذِهن هېو جوړوي نهٔ- مونږه اوس هم د دې یوه جائزه اخستے شو، ټول دې پهٔ خپل زړهٔ باندې غور وکړي، مونږه اَلْحَمْدُلِلّٰہ! د دعوتِ اِسلامي پهٔ هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې حاضر یو، دا د نیکۍ کار دے، نیکه اجتماع ده، دِیني اجتماع ده، مونږه پهٔ جومات کښې حاضر یو، غور وکړئ چې زمونږه څومره دوستان دي، آیا مونږه هغوئي له هم پهٔ نن اجتماع کښې د شرکت کولو دعوت ورکړے دے؟

ډیرو به ورله دعوت نهٔ وي ورکړے- اخر ولې؟ مونږه دوستانو له د نیکۍ دعوت ولې نهٔ ورکوو؟ حالانکې دوست له د نیکۍ دعوت ورکول، د دوستۍ پهٔ حقونو کښې دے-

## چرته هم چې یم، مبارک یم

د اللّٰہ پاک نبي دے، حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام- قرآنِ کریم د هغوئي یوه جُمله ذِکر کړې ده، ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| وَّ جَعَلَنِیْ مُبٰرَكًا اَیْنَ مَا كُنْتُ ۪ (پاره:16، سورهٔ مریم:31) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او زهٔ یې برکت والا جوړ کړے یم که زهٔ پهٔ هر ځائے کښې یم- |

یعني حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام د خپل ځان پهٔ باره کښې فرمائي چې زهٔ چرته هم یم، اللّٰہ پاک زهٔ برکت والا جوړ کړے یم-

یو ځل یو څو علمائے کرام پهٔ یو ځائے کښې راجمع شو، عِلمي خبرې شروع شوې، پوښتنه دا وه چې حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام خپل ځان ته مبارک فرمائیلے دے، پهٔ دې ځائے کښې د برکت نهٔ څهٔ مُراد دے؟ ټولو علمائے کرامو د خپل خپل عِلم اِظهار وکړو،

ډيرې خبرې پرې وشوې، دليلونه ورکړے شو، په اخر کښې د دغه عِلمي مجلس نتيجه دا راووتله چې ټولو علمائے کرامو په شريکه دا فيصله وکړه چې په دې ځائے کښې د برکت نه مُراد د نيکۍ دعوت دے- يعني حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام دا فرمائي چې الله پاک زهٔ داسې جوړ کړے يم چې زهٔ چرته هم يم د نيکۍ دعوت به عام کووم-(1)

سُبْحٰنَ الله! الله پاک دې مونږه هم برکتي جوړ کړي ❁ مونږ که د دوستانو په محفل کښې يو نو هلته هم د نيکۍ دعوت عام کړو ❁ که په دُکان کښې يو نو هلته هم د نيکۍ دعوت عام کړو ❁ که په کور کښې يو نو هلته هم د نيکۍ دعوت عام کړو- غرض دا چې مونږه چرته هم يو نو هم د نيکۍ دعوت عام کړو- الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

## د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ مختصر تعارف

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! ❁ حضرت عُمرِ فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د اوچتې مرتبې صحابئ رسول دے. ❁ د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د اسلام قبلولو سره د اِسلام په عزت او غلبه کښې زياتوالے راغلو او مسلمانانو ته حوصله ميلاؤ شوه ❁ رسولِ هاشمي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ته خپل وزير وفرمائيلو ❁ ټول عمر يـې د حضور جانِ کائنات، فخر موجودات صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې تير کړو ❁ د مسلمانانو د ورومبي خليفه حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د وفات نه پس تقريباً تر لسو کالو، پينځه مياشتو او 21 ورځو پورې د مسلمانانو خليفه او اَمِيرُ الْمُؤمِنِين پاتې شو-

پسِ صدیق اکبر مصطفٰے کے سب صحابہ میں | ہے بے شک سب سے اُونچا مرتبہ فاروقِ اعظم کا(2)

---

1...تفسير طبری، پاره:16، سورهٔ مريم، زيرِ آيت:31، جلد:8، صفحه:338 مفصلاً-
2...وسائلِ بخشش، صفحه:526-

✿ اخر پهٔ مسجدِ نبوي شريف کښې، د سحر د نـمونځ د جَمعې ورکولو پهٔ وخت يو کافِر پهٔ هغوئي باندې پهٔ خنجر [يعني چاړهٔ] باندې حمله وکړه، پهٔ کومه کښې چې هغوئي زخمي شو او پهٔ مدينه منوَّره کښې يې د شهادت مرتبه حاصله کړه- حضرت صُهَيب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د هغوئي جنازه وکړه او پهٔ روضه مبارکه کښې د حضور جانِ کائنات، فخرِ موجودات صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ خوا مبارکه کښې خاورو ته وسپارلے شو- [1]

حیاتی میں تو تھے ہی خدمتِ محبوبِ خالق میں | مزار اب بھی ہے قریبِ مصطفٰے فاروقِ اعظم کا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!   صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## پهٔ حديثونو کښې د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فضيلتونه

✿ خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چا چې د عمر سره بُغض وساتو، هغهٔ زما سره بغض وساتو، چا چې د عمر سره محبت وکړو، هغهٔ زما سره محبت وکړو، بے شکه **اللّٰه** پاک د عرفې پهٔ شپه پهٔ مسلمانانو باندې عمومي فخر فرمائي او پهٔ عمر باندې خصوصي فخر فرمائي، بے شکه د مخکښينو انبيائے کرامو عَلَیْہِمُ السَّلَام په اُمت کښې به يو **مُحَدَّث** وو، که زما پهٔ اُمت کښې څوک **مُحَدَّث** دے نو هغه **عمر** دے- صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم پوښتنه وکړه: يا رَسُولَ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! **څنګه مُحَدَّث؟ اوئې فرمائيل: هٰغه د چا پهٔ ژبه باندې چې فرښتے خبرې کوي-** [2]

✿ پهٔ يو بَل حديثِ پاک کښې دي: اِنَّ اللّٰهَ جَعَلَ الْحَقَّ عَلٰى لِسَانِ عُمَرَ وَقَلْبِهٖ بے شکه **اللّٰه** پاک د عمر پهٔ ژبه او زړهٔ باندې حق اېښودے دے- [3] ✿ مکي مَدَني آقا، د دواړو جهانو داتا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: عمر زما سره دے، زهٔ د عمر سره يم، زما نه پس چې عمر چرته هم وي، حق به د دهٔ سره وي- [4]

---

1...کراماتِ فاروقِ اعظم، صفحه:5 تا 6 خلاصةً-

2...معجم اوسط، جلد:5، صفحه:102، حديث:6726-

3...کنز العمال، کتاب:الفضائل، فضل عمر بن الخطاب، جزء:11، جلد:6، صفحه:262، حديث:32714-

4...تاريخ ابن عساکر، جلد:48، صفحه:324-

گلی سے ان کی شیطاں دُم دبا کر بھاگ جاتا ہے | ہے ایسا رُعب، ایسا دبدبہ فاروقِ اعظم کا[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نصيحتونه

نصيحت کول د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام سُنَّت دي او پۀ نصيحت باندې عمل کول د صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُم سُنَّت دي- د مسلمانانو دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پخپله هم ډير نيک، صالح، متقي، پرهيزګاره بلکې د پرهيزګارانو سردار، د وليانو د سردارانو سردار دے، هغوئي به نورو ته د نيکۍ پۀ دعوت ورکولو او د موقعې پۀ مناسبت سره نصيحت کولو او پۀ سُنَّت باندې به يې عمل هم کولو- راځئ چې د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ يو ډير ښکلے سُنَّت واورو او پۀ هغې د ځان پوهه کولو کوشش وکړو-

## 5 افضل خيزونه

يو ځل حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نصيحت وکړو او اوئې فرمائيل: **(1)**:رَاَيْتُ جَمِيْعَ الْاَخِلَّاءِ فَلَمْ اَرَ خَلِيْلًا اَفْضَلَ مِنْ حِفْظِ اللِّسَانِيعني ما ټول دوستان وليدل خو د ژبې د حفاظت نه مې افضل څوک اونه موندلو-**(2)**:رَاَيْتُ جَمِيْعَ اللِّبَاسِ فَلَمْ اَرَ لِبَاسًا اَفْضَلَ مِنَ الْوَرْعِيعني ما ټول لباسونه وليدل خو د تقویٰ د لباس نه مې زيات افضل اونه موندل **(3)**:رَاَيْتُ جَمِيْعَ الْمَالِ فَلَمْ اَرَ مَالًا اَفْضَلَ مِنَ الْقَنَاعَةِ يعني ما ټول مالونه وليدل خو د قَناعَت نه زيات مې افضل کوم مال اونه موندلو**(4)**:رَاَيْتُ جَمِيْعَ الْبِرِّ فَلَمْ اَرَ بِرًّا اَفْضَلَ مِنَ النَّصِيْحَةِ يعني ما ټولې نيکۍ وليدلې خو د نصيحت نه زياته افضله مې څۀ نيکي اونه موندله**(5)**:رَاَيْتُ جَمِيْعَ الْاَطْعِمَةِ فَلَمْ اَرَ طَعَامًا اَلَذَّ مِنَ الصَّبْرِيعني ما ټول خوراکونه وليدل خو د صبر نه زيات مې خوندور خوراک اونه موندلو-

1...وسائلِ بخشش، صفحه:526۔

(1)

سُبۡحٰنَ الله! خومره ښکلے نصیحت دے، د ژوند بهترین سبق په دي 5 جملو کښې راځائے کړے شوے دے- دا په زړهٔ کښې کښینوئ ❁ د ټولو نه افضل دوست خاموشي ده ❁ د ټولو نه افضل لباس پرهیزګاري ده ❁ د ټولو نه افضل مال قَناعَت دے ❁ د ټولو نه افضله نیکي خیر خواهي ده ❁ او د ټولو نه خوندور خوراک صبر دے-

## (1): خاموشي افضل دوست دے

تاسو به سوچ کوئ چې خاموشي څنګه دوست کیدے شي؟ آؤ جي! دا دوست دے ❁ دا هغه دوست دے کوم چې د رسوایۍ نه بچ کول کوي ❁ دا هغه دوست دے کوم چې عزت زیاتوي ❁ دا هغه دوست دے کوم چې د مشکلاتو نه بچ کول کوي ❁ دا هغه دوست دے کوم چې نجات عطا کوي- په حدیثِ پاک کښې دي: مَنۡ صَمَتَ نَجَا څوک چې چپ پاتې شو، هغهٔ نجات بیاموندو-[2]

## د نجات لاره

صحابئ رسول دے: حضرت عُقبَه بن عامِر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ- هغوئي فرمائي: ما د محبوبِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې عرض وکړو: یا رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! نجات په څهٔ کښې دے؟ اوئې فرمائیل: اَمۡلِكۡ عَلَیۡكَ لِسَانَكَ په خپله ژبه باندې قابو ساتهٔ! (په دي کښې نجات دے)- [3]

سُبۡحٰنَ الله! معلومه شوه چې خاموشي هغه دوست دے کوم چې مونږ ته نجات عطا

1...المنبهات لابن حجر، صفحه:53-
2...ترمذی، ابواب صفة القیامة...الخ، صفحه:591، حدیث:2501-
3... موسوعه ابن ابی دنیا، کتاب الصمت...الخ، جلد:7، صفحه:25، حدیث:2-

کوي- پهٔ دې دُنیا کښې د لوئې لوئې مشکلاتو نه نجات ورکوي او که **اللّٰه** پاک وغوښتل نو پهٔ اخرت کښې به مو هم د دردناک عذاب نه بچ کړي-

## د سلامتیا موندلو طریقه

**پهٔ یو حدیث شریف کښې دي:** څوک چې سلامتیا غواړي هغهٔ دې خاموشي اِختیار کړي-(1)

مثلاً ❀ د چا سره مو جګړه وي نو خاموشي اختیار کړئ! ❀ پهٔ کور کښې څهٔ اخوا دیخوا وشو نو خاموشي اختیار کړئ ❀ که پهٔ دُکان وغیره کښې د طبیعت خلاف څهٔ خبره وشوه نو خاموشي اختیار کړئ! داسې خاموشي مونږ له سلامتیا راکوي، تاسو به کتلي وي چې ډیر ځل پهٔ اخبارونو کښې هم خبرونه راځي، معمولي خبره وي، بس هسې څهٔ وشو، پهٔ سړک باندې ګاډے د چا سره وجنګیدو، داسې نه وي چې بس مخامخ کَس تهٔ یک راواخلي او وه دې ولي، نه---!! وروميے غصه راځي، د خبرو جګړه کیږي (یعني دواړه یو بل ته خبرې کوي، پیغورونه ورکوي)، بیا چې خبره زیاته شي نو ډزې کیږي او تر ډیرو قتلونو پورې خبره رسي، نتیجه څهٔ وي: قتل کوونکے جیل ته لاړ شي او مړ شوے کَس د قبر کندې ته، کور د دواړو برباد شي---!! خومره اسانه خبره وه، غلطي وشوه، بخښنه ترینه وغواړئ، که مخامخ کَس غصه شي نو خاموشي اختیار کړئ- سلامتیا به میلاؤ شي- داسې خاموشي چې ده دا د سلامتیا ضمانت دے-

## خاموشه شهزاده

ډیره ښکلې واقعه ده، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الیاس قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه پهٔ خپله رساله **خاموش شهزاده** کښې ذِکر کړې ده- یو شهزاده (یعني د بادشاه ځوي) وو، ناڅاپه پته

---

1... موسوعه ابن ابی دنیا، کتاب الصمت...الخ، جلد:7، صفحه:34، حدیث:11-

نهٔ لګي چې پهٔ هغهٔ څهٔ وشو چې هغهٔ خاموشه شو، بالکل يې خاموشي اختيار کړه- بادشاه او د هغهٔ وزيرانو ډېر کوشش وکړو خو شهزاده چپ وو،او چپ پاتې شو- باقي ټول کارونه د معمول مطابق کيدل بس شهزاده هيڅ هم نهٔ وئيل- يوه ورځ خاموشه شهزاده د خپلو ملګرو سره ښکار له لاړو، ځنګل ته ورسيدو، پهٔ لينده کښې يې غشے اينښودے وو او د وَنې لاندې ولاړ وو او د مرغۍ پهٔ لټون کښې وو- هلته د وَنو د ګڼو پاڼو نه د يوې مرغۍ اواز راغلو، بس بيا څهٔ وو، هغهٔ فوراً د اواز طرف ته غشے وويشتو او د سترګو پهٔ رپ کښې يوه مرغۍ زخمي شوه او راپريوتله او پړليدله - خاموشه شهزاده بے اختياره ووئيل: **مرغۍ چې تر څو پورې خاموشه وه سلامته وه خو چې ښکه يې اواز وکړو نو د غشي ښکار شوه او افسوس چې د هغې د اواز پهٔ سبب ما هم خبرې وکړې!-** (1)

چُپ رہنے میں سو سکھ ہیں تو یہ تجرِبہ کر لے | اے بھائی! زَباں پر تُو لگا قفلِ مدینہ (2)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** خاموشي واقعي ده چې لوئي نعمت دے، د سلامتيا راز پهٔ دې کښې دے خو افسوس چې زمونږه د فضول خبرو د کولو عادت دومره پوخ دے، دومره پوخ دے چې بس د **الله** پاک پناه--!! يواځې خو مونږه بالکل پاتې کيدے نشو، رښتيا خبره ده، ځانله اوسيدل ډېر ګران کار وي، چې 10 منټه تنهائي شي نو بور کيږو، فوراً څوک دوست ملګرے ګورو او د هغهٔ سره ګپ شروع کوو، نن سبا خو بيا موبائل هم پهٔ لاس کښې دے، د انټرنيټ پيکج لګيدلے وي ، او که څهٔ ميلاؤ نشي نو هم پهٔ دې شروع وکړو، فضول قِسمه چيټنګ وي يا بيا د فضول څيزونو پهٔ کتو کښې مصروفه شو- غرض دا چې پهٔ فضول کښې بس د خبرو کولو عادت مو داسې جوړ شوے دے چې کيدے شي چې صرف پهٔ اوده کيدو به خاموشه کيږو، بعضې خو دغه وخت هم نهٔ

1... خاموش شهزاده، صفحه:21۔
2... وسائل بخشش، صفحه:94۔

خاموشه کيږي، پهٔ دغه وخت کښې هم خبرې کوي- الله پاک دې زمونږه پهٔ حال باندې رحم وکړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د ايمان د پخولو طريقه

حضرت اَنس بن مالِک رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د بنده ايمان نهٔ صحيح کيږي ترڅو پورې چې د هغهٔ زړهٔ نهٔ وي صحيح شوے او د بنده زړهٔ نشي صحيح کيدے ترڅو پورې چې د هغهٔ ژبه نهٔ وي صحيح شوې- (1)

يارَبّ! نہ ضرورت کے سوا کچھ کبھی بولوں | اللہ! زباں کا ہو عطا قفلِ مدینہ ( 2 )

سُبۡحٰنَ الله! معلومه شوه چې د ژبې د حفاظت پهٔ ذريعه زړهٔ روښانه کيږي، چې کله زړهٔ روښانه شي نو ايمان پوخ شي او چې کله ايمان پوخ شي نو بيا پوهيږې چې څهٔ کيږي؟ يو مَدَني سپرلے واورئ!

## د آقا ﷺ ديدار يې نصيب شو

يوه اِسلامي خور کومه چې عطّاريه ده، هغې د خاموشۍ پهٔ اهميت د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه بيان واوريدو، زړهٔ يې زخمي شو او د ژبې يې د فضولو خبرو نه د بچ کولو ذهن جوړ شو- بيا هغې خاموشي اختيار کړه- وائي چې لا درې ورځې تيرې شوې نهٔ وې چې پهٔ ما باندې کرم وشو، زما پهٔ خوب کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او د ډيرو صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُم زيارت نصيب شو- (3)

1...مسند امام احمد، مسند انس بن مالك، جلد: 5، صفحه:432، حديث:12897-
2...وسائل بخشش، صفحه:93-
3... خاموش شهزاده، صفحه:34-

سُبْحٰنَ الله! دا د خاموشۍ برکت دے- کاش چې زمونږه هم د ژبې د فضولیاتو نه د بچ کولو توفیق نصیب شي، د دې پهٔ وجه باندې به ګناهونه کم شي، زړهٔ به روښانه شي، ایمان به پوخ شي او خهٔ پته لګي چې پهٔ مونږه ګنهګارانو باندې هم کرم وشي او محبوبِ ذیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ خوب کښې تشریف راوړي-

ترى جبكه ديد ہو گى جبھى ميرى عيد ہو گى | مِرے خواب میں تُوآنا مَدَنى مدينے والے[1]

الله پاک دې مونږ ته د فضول خبرو نه د بچ کیدو او د ضرورت د خبرې هم پهٔ کمو الفاظو کښې د راغونډولو عادت راعطا کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

بک بک کی یہ عادَت نہ سرِ حشر پھنسادے | اللہ! زباں کا ہو عطا قفلِ مدینہ
ہر لفظ کا کس طرح حساب آہ! میں دُوں گا | اللہ! زباں کا ہو عطا قفلِ مدینہ[2]

## (2): د اَفضَل لباس وضاحت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ نصیحت کولو وفرمائیل چې هر قِسمه لباس مې ولیدلې، پهٔ دې کښې د ټولو نه افضل لباس(جامې) پرهیزګاري ده-

مونږه جامې اغوندو- د ښکلو نه د ښکلو جامو اغوستو کوشش مو وي، چې داسې جامې وي چې لیدونکي پرې واه واه وکړي- که زمونږه پهٔ جامو باندې وړوکے شان داغ ولګي نو زړهٔ خفه شي- د غلطۍ نه که پرې چائے وغیره توئي شي نو بیا هم زمونږه غصه د لیدو وي- الله پاک دې زمونږه پهٔ حال باندې رحم وکړي- دا ظاهري جامې دي، دې د پاره مونږه دومره اهتمام کوو، یوه جامه بله هم ده، هغه کومه ده؟ الله پاک پهٔ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

---

1... وسائل بخشش، صفحه:424۔

2... وسائل بخشش، صفحه:93۔

وَلِبَاسُ التَّقْوٰى ۙ ذٰلِكَ خَيْرٌ ؕ (پاره:8، سورۂ اعراف:26)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او د پرهیزګارۍ جامې د ټولو نه بهترې دي۔

په تفسیر صراط الـجنان کښې دي: لکه څنګه چې ظاهري جامې وجود د یخنۍ ګرمۍ وغیره نه بچ کوي، هم داسې تقویٰ انسان د اخرت د عذاب او د رسوایۍ نه بچ کوي، ځکه دې ته جامې ووئیلے شوې۔[1] یعنې اے د آدم [عَلَیۡہِ السَّلَام] اولاده---!! صرف په ظاهري جامو باندې قناعت مهٔ کوئ! خپل زړهٔ او رُوح ته هم جامې واچوئ! تقویٰ د زړهٔ جامې دي کومې چې د ظاهري جامو نه افضلې دي۔[2]

## د تقویٰ جامې چرته میلاؤیږي؟

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي: په دې آیت کښې تقویٰ ته افضلې جامې فرمائیلے شوې دي۔ د دې یو څو وجهې دي: (1): ظاهري جامې شلیږي او د تقویٰ جامې تل تر تله د انسان سره وي (2): ظاهري جامې هر مسلمان او غیر مسلمه ته میلاؤیږي خو د تقویٰ جامې خاص د خوښو خلقو نصیب کیږي (3): دریم فرق دا دے چې ظاهري جامې په مِلونو کارخانو کښې میلاؤیږي خو د تقویٰ جامې په مدینه منوره کښې جوړیږي، د اولیائے کرامو په آستانو کښې میلاؤیږي۔[3]

طیبہ سے منگائی جاتی ہے، سینوں میں چھپائی جاتی ہے
توحید کی مئے پیالوں سے نہیں، آنکھوں سے پِلائی جاتی ہے

## د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نصیحت

1... تفسیر صراط الجنان، پاره:8، سورۂ اعراف، زیرِ آیت:26، جلد:3، صفحه:291۔
2... تفسیر نعیمی، پاره:8، سورۂ اعراف، زیرِ آیت:26، جلد:8، صفحه:406 بتصرف۔
3... تفسیر نعیمی، پاره:8، سورۂ اعراف، زیرِ آیت:26، جلد:8، صفحه:405 ملخصاً۔

یو ځل د مسلمانانو دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د خلقو نه پوښتنه وکړه: اَیُّ النَّاسِ اَفْضَلُ؟ یعنې د ټولو نه افضل بنده څوک دے؟ خلقو ووئیل: نـمونځ ګزاره- اوئې فرمائیل: نـمونځ ګزاره بعضې وخت ګناه هم کوي، نیکۍ هم کوي (یعنې دا هم ممکنه ده چې بنده نـمونځ خو کوي خو په نورو ډیرو ګناهونو کښې هم اخته وي، ځکه صرف نـمونځ ګزاره افضل نشي کیدے)- خلقو بیا عرض وکړو: د الله په لاره کښې جنګ کولو والا- هغوئې وفرمائیل: دا هم ګناه کوي، نیکۍ هم کوي- خلقو ووئیل: روژه دار د ټولو نه افضل دے- اوئې فرمائیل: روژه دار هم کله ګناه کوي، نیک کار هم کوي- اخر حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پخپله وفرمائیل: د ټولو نه افضل بنده صاحِبِ وَرَع (یعنې پرهیزګار) دے- بے شکه د وَرَع (یعنې پرهیزګارۍ) په ذریعه د انسان نیکۍ پوره کیږي- [(1)]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا ډیر د سبق نه ډک روایت دے، واقعي ده چې خومره داسې دي کوم چې نـمونځونه په پابندۍ سره کوي خو دروغ هم وائي، د سود لین دین هم کوي، کنځلې هم کوي، غیبتونه هم کوي او چغلۍ هم کوي ❀ نورو ته تکلیفونه هم رسوي ❀ خومره روژه دار داسې دي کوم چې د لوږې او تندې نه علاوه هیڅ هم نۀ حاصلوي، روژې نیسي او بیا هم د ګناهونو نه په ډکو کارونو کښې اخته وي ❀ خومره حاجیان داسې دي کوم چې لکونه روپۍ ولګوي او حج خو وکړي خو د ګناهونو نه نۀ منع کیږي ❀ خومره تلاوت کوونکي داسې دي کوم چې د قرآنِ کریم د تلاوت کولو باوجود په ګناهونو کښې هم اخته وي- حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وفرمائیل: افضل بنده هُغه دے کوم چې پرهیزګاري اِختیار کړي، ګناهونه پریږدي- چې کله بنده ګناه پریږدي نو د هغۀ نیکۍ مکملې شي-

## تقویٰ څۀ ده---؟

1...موسوعه ابن ابی دنیا، کتاب الوراع، جلد:1، صفحه:198، حدیث:18-

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** د تقویٰ جامې افضلې دي- دا تقویٰ څۀ وي؟ دا هم واورئ! یوه ورځ د مسلمانانو دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ حضرت کَعبُ الاَحبَار رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ ته وفرمائیل: اے کعبه! ووایئ تقویٰ څۀ ده؟ حضرت کَعبُ الاَحبَار رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ عرض وکړو: اے اَمیرُ المُؤمِنِین! چرته تاسو پۀ داسې لاره باندې تیر شوي یئ پۀ کومه باندې چې کڼ ازغن بوټي وي؟ حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وفرمائیل: آؤ، بالکل زۀ پۀ داسې لاره باندې تیر شوے یم- حضرت کعب رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ عرض وکړو: بیا تاسو پۀ داسې لاره باندې څنګه تیرېږئ؟ ارشاد یـې وفرمائیلو: زۀ د ازغو نه ځان بچ کووم او خپلې جامې راغونډووم- حضرت کعب رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ عرض وکړو: **ذٰلِكَ التَّقْوٰى** بس هم دا تقویٰ ده- (1)

مطلب دا چې مونږه دې دُنیا ته راغلو، **اللّٰه** پاک مونږ ته پاک رُوح راعطا کړو، پاک صفا زړۀ یـې راعطا کړو، اوس مونږه د دې دُنیا نه تیرېږو او د اخرت طرف ته ځو، لکه چې دا دُنیا یوه لار ده او پۀ دې لاره باندې کڼ ازغن بوټي دي، یو طرف ته شیطان دے، بل طرف ته نفس دے،بل طرف ته د دُنیا محبت دے، بل طرف ته د مال محبت دے، حَسَد، بغض، کینه، خواهش پرستي وغیره وغیره پۀ زرګونو ګناهونه او پۀ زرګونو د ګناهونو لارې دي، دا ټول لکه چې کڼ د ازغو بوټي دي، مونږ ته د ژوند پۀ دې سفر کښې خپل پاک رُوح، خپل پاک زړۀ د دې کڼو ازغنو بوټو (یعنې ګناهونو) نه بچ کول دي او تیریدل دي، بس هم د دې څیز نوم تقویٰ ده-

**اللّٰه** پاک دې مونږ ته د ګناهونو نه د بچ کیدو او د تقویٰ د اختیارولو توفیق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

---

1...تفسیرِ بغوی، پاره:1، سورۂ بقره، زیرِ آیت:2، جلد:1، صفحه:13-

## (3): افضل مال قَناعَت دے

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په دريم نصيحت کولو وفرمائيل: **ما د مال په ټولو قِسمونو باندې غور او فِکر وکړو نو په دې نتيجه ورسيدم چې د ټول نه افضل مال قَناعَت دے۔**

## قَناعَت څۀ ته وئيلے شي؟

دا هم ډيره د کمال خبره ده، نن سبا خلق په مال پسې ليوني ګرځي۔ کيدے چې څوک داسې خوش قِسمته وي کوم چې د مال ارمان نۀ کوي۔آيا تاسو ته معلومه ده چې د مالدارئ څۀ طريقه ده؟ د مالداره کيدو د پاره شپه ورځ د مشين په شان د کار کولو ضرورت نشته ، د مالداره کيدو د پاره د قَناعَت ضرورت دے او دا زمونږه په لاس کښې دے۔ څۀ چې راته **الله** پاک عطا کړي دي، په دې باندې خوشحاله شئ، دې ته قَناعَت وئيلے شي۔(1)

## حقيقي مالداري

د نبيانو د سلطان، رحمتِ عالميان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد مبارک دے: لَيْسَ الْغِنٰى عَنْ كَثْرَةِ الْعَرَضِ، وَلَكِنَّ الْغِنٰى غِنَى النَّفْسِ يعنې مالداري دا نۀ ده چې د ساز او سامان کثرت وي بلکې اصلي مالداري خو د زړۀ مالداري ده۔(2)

## زوال نۀ لرونکے دولت

په يو حديث شريف کښې دي: اَلْقَنَاعَةُ كَنْزٌ لَا يَفْنٰى يعنې قَناعَت چرې هم نۀ ختميدونکې خزانه ده۔(3)

---

1...نجات دلانے والے اعمال، صفحه:1413 مفهوماً۔
2...بخاری، کتاب الرقاق، باب الغنى غنى النفس، صفحه:1587، حديث:6446۔
3...الزهد الكبير للبيهقي، صفحه:88، حديث: 104۔

# پهٔ لږ رزق باندې د راضي کيدونکو مقام

**پهٔ يو حديثِ پاک کښې دي:** کله چې به د قيامت ورځ وي نو **اللّٰه** پاک به زما د اُمت يوې ډلې ته وزرې عطا کړي، د کومو په ذريعه چې به هغوئي د خپلو قبرونو نه پهٔ الوتو جنّت ته لاړ شي او هلته چې ځنګه غواړي مزې به کوي- فرښتے به د هغوئي نه پوښتنه کوي: آيا ستاسو سره حساب شوے دے؟ هغوئي به وائي: زمونږ سره حساب نهٔ دے شوے- فرښتے به بيا پوښتنه وکړي: آيا تاسو پهٔ پل صراط راتير شوي يئ؟ هغوئي به جواب ورکړي: مونږ پل صراط نهٔ دے ليدلے- فرښتے به بيا پوښتنه وکړي: آيا تاسو دوزخ وليدلو؟ هغوئي به وائي: مونږه هيڅ څيز نهٔ دے ليدلے- بيا به فرښتې دوئي ته وائي: تاسو د چا اُمتيان يئ؟ هغه خوش قسمته جنتيان به وائي: مونږ د امام الانبيا، حضرت مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمتيان يو- فرښتے به وائي: مونږ تاسو له د **اللّٰه** پاک قسم درکوو، ووايئ پهٔ دنيا کښې ستاسو اعمال څهٔ وو؟ هغوئي به جواب ورکوي: زمونږه دوه عادتونه وو، د کومو پهٔ وجه چې د **اللّٰه** پاک پهٔ فضل او کرم سره دې مرتبې ته راورسيدو: **(1):** مونږ به په تنهايئ کښې هم د **اللّٰه** پاک د نافرمانئ نه حيا کوله او **(2): مونږ به د اللّٰه پاک پهٔ عطا کړے شوي لږ رزق باندې** رضا اوسيدو-[1]

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې قَناعَت فاني نهٔ دے، د دُنيا مال فاني دے- د دُنيا پهٔ مال باندې پهٔ اخرت کښې حساب دے، قَناعَت کوم چې افضل مال دے، پهٔ دې باندې به حساب نهٔ وي بلکې انعامونه به پرې ميلاؤيږي نو ولې داسي نهٔ کووچې مونږه د افضل مال د حاصلولو کوشش شروع کړو، د دُنيا د فاني مال د ګټلو د پاره شپه ورځ محنت کوو، د مشين پهٔ شان کار کوو، پهٔ مال نهٔ ميلاؤيدو پريشانه کيږو، زړهٔ خورو، د ډپريشن ښکار کيږو، اوښکې به هم توئي کوو، څومره محنت چې مونږه د دې فاني مال د پاره کوو، د دې

---

1...قوت القلوب، شرح مقام التوکل ووصف احوال المتوکلين، جلد:2، صفحه:65-

نه کم محنت د هغه افضل ترین مال یعني قَناعَت د پاره وکړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! حقیقي مالداره به جوړ شو-

غمِ روز گار میں تو میرے اشک بہہ رہے ہیں | تِرا غم اگر رُلاتا تو کچھ اور بات ہوتی
نہ فُضول کاش! ہنستا، تری یاد میں تڑپتا | مجھے چَین ہی نہ آتا تو کچھ اور بات ہوتی
یِہی آہ! فکرِ دُنیا مرا دِل جلا رہی ہے | غمِ ہجر گر ستاتا تو کچھ اور بات ہوتی[1]

## (3-4): افضله نیکي او افضل خوراک

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نور وفرمائیل: **د ټولو نه افضله نیکي خیر خواهي ده او د ټولو نه افضل خوراک صبر دے-**

دا هم ډیر اهم نصیحت دے- **په حدیثِ پاک کښې دي:** خَيْرُالنَّاسِ أَنْفَعُهُمْ لِلنَّاسِ په خلقو کښې بهتر هغه دے کوم چې خلقو ته زیاته فائده رسوي-[2]

ځکه مونږ له پکار دي چې مونږه نورو ته فائده رسوونکي جوړ شو، د هر یو د پاره صرف هم خیر غواړو-

**باقي پاتې شو صبر-** د دې خو بیا ډیر ښکلے شان دے- انسان چې روژه ونیسي او د سحر نه تر مابنامه پورې د خوراک څښاک نه صبر وکړي نو **اللّٰه** پاک فرمائي: اَلصَّوْمُ لِيْ، وَأَنَا أَجْزِىْ بِهِ روژه زما د پاره ده او د دې جزا به هم زهٔ ورکووم -

چې د یو څو ګینټو د پاره د خوراک څښاک نه د صبر دا جزا ده نو سوچ وکړئ چې په لوئي لوئي مشکلاتو باندې به د صبر کولو څومره ثواب وي- ځکه خو صبر داسې نعمت دے چې د دې هډو څهٔ بدل هُم نشي کیدے- بس **اللّٰه** پاک دې مونږ ته دا نعمتونه، دا

---

1...وسائلِ بخشش، صفحه:384-
2...جامع الصغیر، صفحه:246، حدیث:4044-

ښکلي ښکلي اوصاف راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

## د 5 نصیحتونو خُلاصه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د حضرت فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ دا یو څو نصیحتونه دي: (1): افضل دوست خاموشي ده (2): افضلې جامې پرهیزګاري ده (3): افضل مال قَناعَت دے (4): افضله نیکي خیر خواهي ده (5): او افضل خوراک صبر دے- **اللّٰه** پاک دې زمونږه د خاموشۍ دولت هم نصیب کړي، پرهیزګاري دې هم نصیب کړي، قَناعَت دې هم راعطا کړي، کاش چې مونږه د نورو خیر خواه هم جوړ شو، کاش چې صبر کول مو نصیب شي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب!　　صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## پهٔ 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: مَدَني مذاکره

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د نیکو نه د ډک ژوند تیرولو، د ګناهونو نه د بچ کیدو د سعادت حاصلولو د پاره د عاشقِ رسول د دِیني تنظیم دعوتِ اِسلامي ماحول سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ- پهٔ 12 دیني کارونو کښې هم پوره برخه اخلئ، اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! زړهٔ به مو روښانه شي، عشق به مو نصیب شي، د **اللّٰه** پاک محبت به مو نصیب شي او د دِین او د دُنیا بے شمیره برکتونه به مو نصیب شي- پهٔ 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار هفته واره مدني مذاکره هم ده-

امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الیاس عطّار قادري دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه د اوسني وخت عظیم علمي او روحاني شخصیت بلکې کامِل ولي دے، هغوئي د هر خالي پهٔ ورځ د شپې د ماسخوتن د نـمونځ نه پس مدني مذاکره کوي یعني د ټولې دنیا نه عاشقانِ رسول د تفسیر،

حديث، شريعت، طريقت وغيره پۀ مختلفو موضوعاتو باندې پوښتنې کوي، اميرِ اهلِسُنَّت د هغه پوښتنو جوابونه ورکوي- هفته واره مَدَني مذاکره د ماسخوتن د نـمونځ نه پس پۀ مدني چينل باندې نيغ پۀ نيغه (*Live*) ښودلے شي-

**مدني مذاکره د عقيدې او د اعمالو د اصلاح بهترينه ذريعه ده:** ❀ اَلْحَمْدُلِلّٰه! اوسه پورې پۀ سوونو کافرانو د مدني مذاکرې کتلو سره کلمه وئيلې ده ❀ ډير بے نـمانځه نـمونځ ګزاره جوړ شوي دي ❀ د زرګونو زړونو اِصلاح شوې ده-

**تاسو هم په مدني مذاکره کښې شرکت کوئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم!** ❀ عِلمِ دِين به درته حاصل شي ❀ د **الله** پاک محبت به مو نصيب کيږي ❀ پۀ عشقِ رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې به زياتوالے راځي ❀ د ګناهونو نه به مو نفرت نصيب کيږي ❀ د نيکۍ جذبه به درته ميلاويږي او ❀ پۀ اخلاقو او کردار کښې به مو هم بهتري راځي-

د هر خالي پۀ ورځ د ماسخوتن د نـمونځ نه پس پۀ پابندۍ سره پۀ مَدَني مذاکره کښې شرکت کوئ!

اَلْحَمْدُلِلّٰه! محرم شريف راروان دے، اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِيْم! د 26 جون نه تر 11 محرم شريف پورې به هره ورځ د شپې 9 بجې او 45 منټو باندې د مدني مذاکرو سلسله وي❀ که کيدے شي نو عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه کراچي ته تشريف يوسئ! د اميرِ اهلِ سنت مولانا محمد الياس قادري دامَت بَرَکاتُهمُ العالِيه په صحبت کښې په مدني مذاکرو کښې شامل شئ! ❀ په خپلو علاقو کښې په اجتماعي توګه د مدني مذاکرو کتلو اهتمام وکړئ! ❀ د کور کسانو ته په اجتماعي توګه د مدني مذاکرې ښودلو کوشش وکړئ! ❀ په فيس بک او يوټيوب باندې هم مدني مذاکره لائيو ښودله کيږي، که کيدے شي نو په دې باندې د مدني مذاکرې کتلو اهتمام وکړئ! الله پاک دې مونږ ته توفيق راکړي.

راځئ چې پهٔ مَدَني مذاکره کښې د شرکت کولو پهٔ فائدو مشتمل يو مَدَني سپرلے واورو:

## د ماړرن ځلمي توبه

د منډي بهاؤ الدين (صوبه پنجاب، پاکستان) د اوسيدونکي د يو اِسلامي وررور د ليکلو خلاصه ده چې د دعوتِ اِسلامي ماحول ته د راتلو نه مخکښې زهٔ د ګناهونو پهٔ هلاکيدونکي دره کښې ورَک ووم- هر وخت به مې پهٔ زړهٔ او دماغو کښې د فيشن خيال وو او د نيکو نه لرې د دنيا پهٔ رنګينو کښې مې ژوند بربادولو- يو ځل يو مبلغ د دعوتِ اِسلامي د لاندې پهٔ آخري عشره کښې د اجتماعي اعتکاف پوره ترغيب راکړو، هم دا رنګې د **الله** پاک پهٔ فضل او کرم سره زما د اعتکاف سعادت نصيب شو، د اجتماعي اعتکاف خوندور ماحول، زړهٔ راښکونکي بيانونه، د پيشمني او روژه ماتي روحاني نظارې ډيرې ښې ولګيدې، دکرم د پاسه کرم دا چې د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه علمي او روحاني **مدني مذاکرو** او د ژړا نه ډکو دُعاګانو د زړهٔ نه د ګناهونو زنګ صفا کړو- زما د ګناهونو پهٔ تيارهٔ ژوند کښې د عشقِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رڼا خوره شوه- ما د خپلو ګناهونو نه رښتوني توبه کړه او د امير اهلسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه نه مې د بيعت شرف حاصل کړو، اَلْحَمْدُلِله! ګيره مبارکه مې پريښوده، عمامه مې پهٔ سر کړه او د سُنَّتو نه د ډک ژوند تيرولو د پاره مې د دعوتِ اِسلامي ديني ماحول اختيار کړو-(1)

مقبول جہاں بھر میں ہو دعوتِ اسلامی | صدقہ تجھے اے ربِّ غفّار! مدینے کا(2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د صِرَاطُ الـجنان ايپلي کيشن تعارف

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** اَلْحَمْدُلِله! دعوتِ اِسلامي مونږ ته د جديد

1...بد چلن کیسے تائب ہوا؟، صفحہ:12 تا 14 بتغیر۔

2...وسائلِ بخشش، صفحہ:180۔

ټیکنالوجۍ په ذریعه هم د عِلمِ دِین ښودلو او د نیکۍ د دعوت عام کولو موقعې راکوي- د دعوتِ اِسلامي د ***I.T*** ډیپارټمنټ له خوا یو موبائل ایپلي کیشن جاري کړے شوے دے، د کوم نوم چې ***Sirat ul Jinan Quran & Tafsir*** (صِرَاطُ الـجنان قرآن اینډ تفسیر) دے- په دې ایپلي کیشن کښې ❁ مکمل قرآنِ کریم ❁ د اعلیٰ حضرت، اِمام اهلِسُنَّت، شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لیکلې ترجمهٔ کنز الایمان ❁ اسانه ترجمه کنز العرفان او ❁ په اسان انداز کښې لیکلے شوے تفسیر **صِرَاطُ الـجنان** شامل دے- ❁ قرآنِ کریم، ترجمه او تفسیر په آډیو ***(Audio)*** کښې هم اوریدے شئ- ❁ هره ورځ تلاوت کیدونکې سورتونه بیل جمع کړے شوي دي ❁ د مَدَني چینل تفسیرِ قرآن او مختلف قرآني پروګرامونه هم د دې ایپلي کیشن په ذریعه په اسانۍ سره کتلے شئ ❁ نور دا چې قرآني آیتونه، ترجمه او تفسیر په وټس ایپ ***(Whats App)***، په فیس بُک ***(Facebook)*** وغیره باندې د خپلو دوستانو سره شیئر کولے هم شئ- دا ایپلي کیشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ، عِلمِ دِین زده کړئ او نورو ته د رسولو سره د نیکۍ د دعوت عام کولو ثواب هم حاصل کړئ-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## یو څو ضروري اِعلانات

❁ د هر خالي په ورځ امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په **مَدَني چینل** باندې **لائیو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکې هفتې په ورځ به هم د ماسخوتن د نـمانځه نه پس به تقریباً 9:45 بجې په مَدَني چینل باندې اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! هفته واره مَدَني مذاکره کیږي، په کومه کښې چې به شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا الیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول په دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ❁ شیخِ طریقت، امیرِ

اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د يوې دِيني رسالې د لوستلو اعلان کوي، په راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به **د پرنجي [انتروشي] آداب** رسالې اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د **الله** پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر (***Share***) کړي! ❁ مکتبة المدينه د مسلمانانو د دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په سيرت مبارک باندې تفصيلي د 2 جلدونو يو کتاب **فيضانِ فاروقِ اعظم** چاپ کړے دے- په کوم کښې چې د هغوئي د اِسلام قبلولو تفصيلي واقعه، عشقِ رسول، کرامات، عدل او انصاف، تقویٰ او پرهيزګاري او ډير څۀ ليکلے شوي دي- تاسو د دې کتاب پوره سيټ د مکتبة المدينه د يوې څانګې نه په **2470 روپۍ** په بيعه واخلئ يا يې د دعوتِ اِسلامي د ويب سائټ www.dawateislami.net نه مفت ډاؤن لوډ کړئ، پخپله يې هم ولولئ! او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِیْ فَقَدْ اَحَبَّنِیْ وَمَنْ اَحَبَّنِیْ کَانَ مَعِیْ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغۀ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغۀ به په جنّت کښې زما سره وي- (1)

سينه تيری سُنّت کا مدينه بنے آقا! | جنت ميں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په محرم شريف کښې روژه نيول سنت دي

1...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343-

د خوږ مصطفیٰ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم فرمان دے: اَفْضَلُ الصِّیَامِ بَعْدَ رَمَضَانَ شَھْرُ اللّٰہِ الْمُحَرَّم يعنې د رمضان نه پس د ټولو نه افضلې روژې د محرم د مياشتې دي، کومه چې د اللّٰه پاک مياشت ده. (1)

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د عاشورې يعنې د 10 محرم شريف روژه سنتِ مصطفیٰ ده، حضرت عبدالله بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: د عاشورې يعنې د 10 محرم شريف په ورځ نبي پاک صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم پخپله هم روژه ونيوله او د دې د نيولو حکم يې هم وفرمائيلو. (2)

د رواياتو مطابق: ✿ د محرم شريف د هرې ورځې روژه د يوې مياشتې د روژو برابره ده. (3) ✿ خصوصاً د عاشورې د روژې په باره کښې خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: "زما په اللّٰه پاک باندې ګمان دے چې د عاشورې روژه د يو کال مخکښيني ګناهونه ختموي [يعنې معاف کوي]." (4) ✿ خو صرف د لسم محرم شريف روژه نه بلکې د نهم يا يوولسم محرم روژه دې هم ورسره شامله کړے شي، آخري نبي، محمد عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: "د عاشورې په ورځ روژه ونيسئ او په دې کښې د يهوديانو (په دې شان) مخالفت وکړئ چې د هغې نه مخکښې يا وروسته هم د يوې ورځې روژه ونيسئ." (5)

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د بهارِ شريعت جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د 91 صفحو رساله 550 سنتیں اور آداب واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول

1...مسلم، کتاب الصيام، باب فضل صوم المحرم، صفحه:424، حديث:1163۔
2...بخاري، کتاب الصوم، باب صيام يوم عاشوراء، صفحه:524، حديث:2004ملتقطاً۔
3...بخاري، کتاب الصوم، باب صيام يوم عاشوراء، صفحه:524، حديث:2004ملتقطاً۔
4...بخاري، کتاب الصوم، باب صيام يوم عاشوراء، صفحه:524، حديث:2004ملتقطاً۔
5...مسند امام احمد، جلد:2، صفحه:100، حديث:2191۔

سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

| | |
|---|---|
| پاؤگے بخششیں قافلے میں چلو | جنّتیں بھی ملیں، قافلے میں چلو |
| رِزق کے دَر کھلیں، قافلے میں چلو | برکتیں بھی ملیں، قافلے میں چلو |

**الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې

## لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګاني

### ﴾1﴿ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپې] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاہِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَصَحْبِہٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنئ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندئ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قَبْر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر كښې د خپل رَحمت نه ډكو لاسو باندې كوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

### ﴾2﴿ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

---

1... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

حضرتِ سیِّدُنا انَس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه گُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرگانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اكبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَۀ كرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہم حيران شو چې دا څوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

1...القول البديع،الباب الثانى، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات على سيد السادات،الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلې نو داسے ئې لوَلې.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ اَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلې، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَّا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُما نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[4] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

2...القول البديع، الباب الثانى، ص۲۷۷

3...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

4...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵